# د نيکمرغه لوى اختر لمونځ

نيت مي دئ چي وکړم دوه رکعته واجب لمونځ د لوى اختر په شپږ تکبيره په دې حاضر وخت د ځابنت اقتدا مي ده پدې حاضر امام پسې مخ مي دئ پر لوري د کعبې شريفي خاص خداى تعالى لره الله اکبر.

تر نيت وروسته سبحانه ويل کيږي. بيا امام درې واره تکبير (الله اکبر ) وايي ته به يې هم ورسره ووايې. ددغه درې واره تکبير سره به هر واري ته هم تکبير ووايې او هر وار به لاسونه غوږو ته يوسې او بيا به يې ايله ونيسې. تر دريم وار تکبير وروسته به لاسونه بيرته تر نامه لاندي ونيسې.

اوس نو امام اعوذبالله او بسم الله وايي او بيا په لوړ اواز قرائت وايي.بيا رقوع او سجدې ته ځي . تر سجدې وروسته دوهم رقعت ته را ولاړيږي او قرائت وايي. تر قرائت وروسته بيا د اول رقعت په شان درې واره تکبير وايي چي د هر وار تکبير سره به لاسونه غوږو ته يوسې او بيا به يې ايله ونيسې. بيا نو امام څلرم تکبير وايي او ددغه تکبير سره يو ځاى رقوع ته ځي .

ځيني امامان د اختر لمونځ په دولس تکبيره کوي.